# د موسی علیه السلام
# دشریعت لس حکمونه



# د موسی علیه السلام

# د شریعت لس حکمونه

هر کله چه خدائے د سینا په غر باندے د موسیٰ سره خبری خلاصی کړی، نو هغهٔ، هغهٔ ته هغه حکمونه چه ئې په خپله د کانړی په دوه تختو لیکلی وه ورکړل.
(تورات شریف، خروج ۳۱: ۱۸)

Roshan Books

روښانه کتابونه

# د موسی علیه السلام
# د شریعت لس حکمونه

اول چاپ ۱۹۹۴
دویم چاپ ۱۹۹۸
دریم چاپ ۲۰۰۳

# پېژندګلو

ګرانو لوستونکو! مونږ تاسو ته د دې لس حکمونو د لوستلو د پاره دَ زړۀ د اخلاصه شکريه ادا کوو.
او هم د لوئ او متعال خدای څخه دا دعا کوو چه تاسو په دې لس حکمونو باندې ښه پوهه شی او عمل پرې وکړئ.
دا هغه حکمونه دي چه د خدای تعالٰی د خوا څخه حضرت موسیٰ ته د سينا په غرۀ باندې د بنی اسرائيلو د هدايت او لارښودنی د پاره ورکړ شو، چه د دوی او د راتلوونکی انسانانو د پاره د ژوند تيرولو معيار وی.
په دې لس حکمونو باندې پوهيدل او په هغی باندې عمل کول د هر يو انسان د پاره ضروری خبره ده. او قادر مطلق خدای زمونږ او ستاسو څخه دا ارزو هم لری چه د هغه د شريعت او احکامو پابندی او تابعداری وکړو. په دې وړه کتابچه کې دا لس حکمونه صرف د موسیٰ عليه السلام د تورات څخه را نقل شوي او په ډير خلص او لنډ ډول سره تشريح شوي دي او ستاسو په خدمت کې پيش کولی شی.

# اوله حصه اِلهی شریعت

په عیسویت کې لفظ انجیل یو خاص او لوئے لفظ دے چه د یُونانی ژبی نه راغلے دے چه معنیٰ ئې ده زیرے یا خوشخبرے. لفظ انجیل د دې کتاب د پاره هم په دې وجه استعمالیږی چه په دې خاص کتاب کې د خُدائے له لورے هغه زیرے یا خوشخبرے مونږ ته رارسیږی.

اوس سوال دا دے چه دا به کومه خبره وی چه د هر یو انسان د پاره په ټوله دُنیا کې د خوشحالئ خبره وی؟

دا صرف یو خبره کیدے شی یعنی چه خُدائے تعالیٰ د ګناه د معافئ په حق کې کلام کړے دے او د تل ژوندون وعده ئې مونږ سره کړی ده.

مګر بنی آدم به څنګه خپل ځان داسے ګناه ګار وپیژنے چه د هلاکت لائق دے. ولے چه د زړه په شهادت یقین کول نۀ دی پکار ځکه چه زړه همیشه لوئے ټګمار دے او انصاف نۀ شی کولے. ولے چه هغه همیشه او مدام طرفدارے کوے.

نو هر یو انسان به د اِلهی شریعت په وسیلے خپل ځان ګناه ګار وپیژنے. ځکه پکار دی چه د ټولو نه اول هغه

الهی شریعت زده کړو او فکر پرے وکړو او وګورو چه څه ئې په کې لیکلی دی او چه په هغۀ پوه شو نو هغه وخت به مونږ په ریښتیا سره پوه شو چه څنګه ګناه ګاران یُو. او بیا به هم هغه لفظ انجیل زمونږ د پاره کافی او لوئے مطلب لرے. اګر که مونږ له تورات نه هغه لس احکام اخلو خو دا هم ریښتنی خبره ده چه دا احکام زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح د طرفه هم راغلی دی. ولے چه زمونږ مالک پخپله ویلی دی چه زه د شریعت د پوره کولو د پاره راغلے یم. او بل ځائ ئې ویلی دی چه ټول شریعت په دې دوؤ خبرو زوړند دے چه خُدائے سره او خپل ګاونډی سره مینه کول لازم دی. ځکه دا لس حکمُونه داسے منل پکار دی لکه چه زمونږ مالک عیسیٰ مسیح هغه پخپله جاری کړی وی.

## شریعت او فضل

اوس سوال دا دے چه د خُدائے فضل د عیسیٰ مسیح په وسیلے دا مطلب نۀ لرے څه چه مونږ د شریعت نه خلاص شو؟ نه، انسان د خُدائے د شریعت نه هیڅکله په دې دُنیا کې نۀ خلاصیږی. او هغه فضل چه په

عیسیٰ مسیح کښې مونږ ته حاصل شوے دے په هیڅ طور مونږ د شریعت نه نۀ آزاده وی. په تورات شریف کښې لیکلی دی چه کوم وخت چه خدائے دا شریعت نازل کړ هم ئې ورسره د لعنت کلام په هم هغه خلقو نازل کړے وؤ چه شریعت ئې ټکی په ټکی نۀ ساتلو. ځکه چه د ګناه په وجه سره په انسان کښې د پوره ساتلو طاقت نۀ وو، نو ځکه ټول لعنتیان شو. نو هغه د معافی فضل چه په عیسیٰ مسیح کښې راغلے دے هغه دا دے چه د دې لعنت نه بچ شو. یعنی چه یو کس په رښتیا سره د شریعت پابندی کوی او هغه پوهه شی چه زما نه په پوره طور سره نۀ پوره کیږی، نو هغه په ایمان سره دا تسلی لرلے شی چه د عیسیٰ مسیح په وسیله او د خدائے د فضل په وجه سره زه لعنتے نۀ شوم، مګر خُدائے به مے معاف کړے. د غرقیدو نه به مے بچ کړے او د تل ژوندون به راکړے. په دې شان سره مونږ د فضل لاندې شو. مګر په دې فضل به تر هغه پوه نۀ شو تر څو چه په شریعت پوه نۀ شو او د هغه پابندئ ته غاړه کښېنږدو.

# اول حکم

## زما د وړاندې به ستا نور خدايان نۀ وی.

خدای په دې حکم کې مونږ ته دری خبری ښيی.

### اوله خبره

په کار دے چه انسان په هر حال کې له خدای څخه ويره وکړی. بنی آدم اکثر له خلقو نه له بد حال نه له مرګ نه ويريږی. او په دې قسم ويری اصلی ويره کومه چه د خُدائے نه کول په کار دی زر هيره شی.

### دويمه خبره

په هر حال کې خدای سره مينه کول لازم دی. او د خدای سره مينه کول دا دی چه مونږ د هر څه نه اول د مالک عيسیٰ مسيح په کار او په کلام ايمان ولرو او عمل پری

وکړو. مګر مونږ اول د خپل عزت، آرام، کار او د خپل شوق خیال ساتو. اول په خپل سر او مال او په قوم باندې مینه کوو او د خدای سره مینه را نه هیره وی.

## د ریمه خبره

په هر حال کې په خدای توکل کول په کار دے. هر کله چه په انسان ښی ورځی تیریږی نو خپل ځان قایم ګڼی، او توکل ئې په خپل طاقت وی. او کله چه تکلیف یا خطر راشی، نو خدای ورته لری ښکاری، نو زر په دوست یا په دولت یا په انسانی طاقت توکل کوی. ولی چه هغه ورته نژدې ښکاری مګر زمونږ مالک ویلی دی چه خُدائے، خُدائے دے. او بغیر د هغۀ د مرضئ نه دومره هم نه کیږی چه یو چڼچڼه په مزکی باندې پریوزی، مګر هم وائې چه تۀ د دوؤ مالکانو خدمت په یو ځائ نه شی کولے. یعنی په دې حکم کې دا دری خبرے دی ویره، مینه، توکل.

## دویم حکم

**ته به د ځان د پاره تراشلے بُت یا د بل څه څیز شکل نه جوړوی او نه به ورته سجده کوی او نه به ئې عبادت کوی.**

خدای په دویم حکم کښې هغه کار منع کوی کوم چه انسانان ئې اکثر کوی. نو د دې نه دا معلومیږی چه بتان په دری قسمه دی.

### اول قسم

د ګناه په وجه د انسان روحانی نظر خراب شو نو ځکه هغه لوی او عالم الغیب خدای ئې په خپل زړه کښې ساتلی نهٔ شو. که چیری تل ئې دا خیال کولو چه زما خدای ماته نژدې دے نو ښه به وو. نو انسان ورته کله یو قسم شکل ورکوی او کله بل قسم شکل. بیا د دې جوړ شوی شکل په وجه هغه حقیقی خدای د هغوئ له

زړه نه بلکل وځی. او هغه په لاس جوړ شوی بُت ورته رښتنی خدای ښکاری.

## دویم قسم

د ګناه په وجه د انسان روحانی عقل هم خراب شو. یعنی انسان د خدای په حق کې خپل انسانی علم استعمال کړو. نو په خپل خیال کې ئې یو خدای جوړ کړو چه په حقیقت کې هغه رښتنی خدای نهٔ دے. نو بیا هغه علم یو قسم بُت شو. ولی چه خدای صرف خپل ځان په کتاب مقدس یعنی تورات، زبور، انجیل کې مونږ ته ښودلی دے. او که چیری انسان د دې نه خلاف یو بل خیال ولری، نو هغه هم بُت پرستی کوی.

## دریم قسم

د ګناه په وجه د انسان روحانی شوق هم خراب شو. کوم شوق چه خدای د پاره په کار وه هغه په مختلف دنیاوی شوقونو بدل شو. نو بیا انسان د دنیاوی شوقونو غلام

شو او د هغۀ د پاره دا شوق يو قسم بُت شو. ځکه چې کوم شوق د خدای د پاره وو د هغه په ځائ استعمال شو. د دې نه دا معلوميږی چه د دې حکم ماتول نه تش په هغه خلقو کې دے چه د لرګی او د کاڼی بُتان جوړوی، بلکه هم په هغه ټولو خلقو کې دے چه غلط علم يا خيال د خدای په حق کې ساتی. او يا د دنياوی څيز په سبب خدای د خپل زړه نه وباسی.

زمونږ مالک عيسیٰ مسيح فرمايلی دی چه خدای روح دے. او د هغۀ عبادت په يو خاص ځائ کې نۀ کيږی لکه د يو بُت. مګر هر چيرته چه انسان وی هغه دې په روح او په حقيقت سره په هغه ځائ کې عبادت کوی. د عيسويت په نظر دا يو غلط خيال دے چه مخ خاص يو خوا يا بل خوا ته په کار دے ځکه چه خدای د بُت په شان دلته يا هلته ناست نۀ دے.

## دریم حکم

### ته به د خپل خدای نوم بې فایدی نۀ اخلی.

مخلوق د خالق نوم په پنځو طریقو سره اکثر بې فایدی اخلی او په هر یوی طریقی سره خپل ځان ګناه ګاره وی.

### اوله طریقه

د انسان په ګپ شپ کې د خدای د نوم قسم خوړل د خدای تعالٰی د نوم لویه بې عزتې ده. که چیری په سرکاری طریقی سره قسم وی، نو د هر یو عیسوی د پاره په رښتنی شهادت قسم خوړل روا دے. او بې له دې نه هر رنګه قسم خوړل ګناه ده. ولی چه په هغه وخت کې د خدای نوم بې فایدی اخستلی کیږی.

## دویمه طریقه

هر کله چه یو انسان ښیری کوی هغه هم دا حکم ماتوی. ولی چه ښیری کول بد دعا ده او هیڅوک دا اختیار نهٔ لری چه د خدای نوم په بد دعا کښې یاد کړی، بلکه د مسیح له لوری دا حکم راغلی دے چه که څوک تا وربړوی، نو تهٔ هغهٔ ته ښه دعا وکړه.

## دریمه طریقه

هر قسم لعنت ویل هم دا حکم ماتوی. ولی چه لعنت کول تش د خدای په اختیار کښې دے او د بنی آدم لعنت صرف د ضد او کینې نتیجه ده او په دې شان سره د خدای د نوم بې عزتی کیږی.

## څلورمه طریقه

هر هغه څوک چه د خدای په نوم دم اچوی یا تعویذ جوړوی هغه د خدای نوم بې فایدی اخلی. او که چرته

انسان دم یا تعویذ ومنی او استعمال ئې کړی نو هغه هم د مخلوق په قبضه کې هغه اختیار منی کوم چه خاص او یواځی د خالق په قبضه کې د ے.
خُدائے خپل خدائی واک او اختیار انسان ته په حواله کړی نۀ د ے. نو ځکه په دم اچولو او تعویذ جوړلو کې د لوئے خُدائے نوم بې فایدی اخستل کیږی.

## پنځمه طریقه

ډیر خلق بلکل بې خیاله او بې مطلبه د خدای نوم په فضول شان اخلی. په دې شان د خدای نوم د انسان په خوله کې سپک شی. او په دې عادت بنی آدم ګناه ګار کیږی. که چیری څوک د خدای نوم په فایدی سره اخیستل غواړی، نو دا په دعا، په منت، په شکر ګزارئ، په حمد او صفت سره اخیستل کیدے شی. او د دې نه هر څه چه بهر وی هغه ګناه ده. او د دې حکم ماتول دی.

# څلورم حکم

## ته به د آرام ورځ ساتې.

خُدائے د انسان نه په هفته کښې يوه پوره او خاص ورځ غواړی. د دې د پاره چه په هغه ورځ کښې بنی آدم دنياوی کار پريږدی او د خدای په کار او کلام فکر وکړی. ولی انسان اګر چه خدای هره ورځ يادوی خو د نورو کارونو سره. مګر هر کله چه د آرام په ورځ نور کار بند وی نو انسان په پوره سوچ سره د خدای کلام اوريدلی شی. او هم دا خيال کولی شی چه زما تابعداری په څه شان سره کامله کيدلی شی او زما د تسلی او د نجات د پاره څه کلام کيږی. په تيرو شوو زمانو کښې په بنی اسرائيلو کښې د آرام ورځ د خالی ورځ وه. او هغوئ به ورته د سبت ورځ ويله چه معنیٰ ئې بنده شوی ده، مګر د عيسويت په زمانه کښې د اتوار ورځ مقرره شوه. ولی چه د اتوار په سهار کښې زمونږ مالک عيسیٰ مسيح له مړو نه بيا ژوندی شو. او دا خبره چه د

عیسویت بنیادی خبره ده، نو ځکه عیسویان خاص د
اتوار ورځ د آرام او عبادت د پاره ساتی.

# پنځم حکم

## ته به د خپل پلار او مور عزت کوی.

مور او پلار په اولاد باندې حق لری. نو په دې وجه اولاد د خپل مور او پلار نه بې پروا کیدے نۀ شی. مګر د هغوئ عزت او خدمت به کوی او د هغوئ تابعدار به اوسی.

مګر زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح د کلام نه معلومیږی چه مور او پلار اولاد د حقیقی ایمان نه منع کولی نه شی. ولی چه هغۀ وئیلی دی چه په چا باندې چه خپل مور او پلار زما نه زیات ګران وی، هغه زما لائق نۀ دے. مګر بیا هم په اولاد باندې په هر حال کې د مور پلار عزت لازم دی که څه هم که مور پلار د اولاد نه مخالفت کوی یعنی دا حکم په دې وجه سره نۀ شی ماتیدے چه اولاد عیسوی وی او مور پلار ئې نۀ وی.

# شپږم حکم

## ته به خون نۀ کوې.

انسان په مرګ او ژوند باندے هیڅ اختیار نۀ لرى. دا اختیار صرف د خُدائے په لاس کښې دے او دا حکم زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح په وسیلې نور هم سخت شو. ځکه چې هغه وائی که تا چا سره کینه وکړله دا هم د خون برابر دے. ولے بیا ته د بل چا په مرګ خوشحاله یئ. مګر یواځې خُدائے په ساه ورکولو او په ساه اخیستلو پوهیږی. او بنی آدم په هیڅ شان سره هم د چا په مرګ فکر نه شی کولے. او نه دِ پرے خوشحالئ وکړی، او نه ورته خوشحالی کولَ روا دی. د بنی اسرئیلو په شریعت کښې خُدائے دا حکم هم کړی وو چه ژوند د ژوند بدل دے. بلکه تر دی حده پورے چه که چیری یو ښاروی هم یو بنی آدم مړ کړی نو هغه ښاروی دے قتل شی. ځکه چې په حکومت کښې دا طاقت شته چه په قانونی طور باندے او د خُدائے په مرضئ د پانسئ حکم په خونی باندے وکړی.

## اووم حکم

## ته به زنا نهٔ کوی.

د انسان او د نور بې زبانه مخلوقات په مینځ کې دا یو لوی فرق دے. ولی چه په انسان کې عقل شته او په نور مخلوق کې نشته. د عقل مطلب دا دے چه انسان ځان پیژنی. مور، پلار، خور، ورور، لور، زوی، پیژنی. بغیر د انسان نه داسی پیژندنه په نور مخلوق کې نشته. د دې پیژندګلوی په وجه سره خُدائے هم سخت حکم کړے دے چه انسان خپل جسم بې لاری پریښودے نه شی. زنا صرف په انسانانو کې امکان لری. ولی چه په نورو مخلوقاتو کې ئې امکان نشته. خاص درے خبری دی چه پرے فکر کول پکار دے.

## اوله خبره: ذمه وارے

د انسانیت بُنیاد په دې خبره لګیدلی دے چه انسان د خپل عمل د پاره ذمه وار دے. کله چه یو کس واده وکړی نو هغوی په شریکه د کور او د اولاد زمه واری هم اَخلی. که ښی ورځی تیریږی او که بد ے که خوشحالی وی که سختی د دې ذمه وارئ نه بغیر هر قسم کوروالی حرام دے.

## دویمه خبره: یووالی

د یووالی مطلب دا دے چه هر کله چه سړے او ښځه د واده کولو نیت وکړی، نو معنیٰ دا ده چه هغوئ یو زړه، یو جسم، یو کور شی. او دا صرف په دې شان سره کیدے شی چه د یو بل سره مینه ولری. او ځان یو د بل د پاره قُربانوی. دا وجه ده چه په عیسویت کې خاوند صرف یوه ښځه لرلے شی او ښځه صرف یو خاوند. ولی چه په اول کې خُدائے تعالٰی صرف یو سړے پیدا کړے وو. او بیا له هغهٔ نه ئې یوه ښځه او د وادهٔ په تړون ئې

هغوی یو ځایٔ کړی دی. تر څو پورے چه دا تړون یا یووالی نهٔ وی نو زنا او حرام دے.

## د ریمه خبره: صفائی

په لسم حکم کښې لیکلی دی چه تهٔ به په وړو سترګو د بل چا ښیز ته نهٔ ګوری. او زمونږ مالک عیسیٰ مسیح فرمائیلی دی چه که تهٔ په وړو سترګو پردیٔ ښځی ته وګوری، نو دا زنا ده. ولی چه د زړه صفائی او د زړه یووالی په دې ختمیږی.
نو که چرے یو سړے په ذمه واریٔ په مینے او په صاف زړهٔ وادهٔ یوے ښځی سره، یا یوه ښځه د یو خاوند سره کوی، هغه د خُدائے د مرضیٔ په مطابق دے. او هر څه چه له دے نه بغیر وی هغه زنا ده.

## اتم حکم

## ته به غلا نۀ کوی.

څلور قسمه غلاګانے شته.

## اول قسم: عام غلا

هر کله چه یو انسان لوټمار یا شوکمار یا غل وی، نو هر چا ته معلومه ده چه هغه د خُدائے ګناه ګار دے.

## دویم قسم: خرڅول او اخیستل

په سودا اخیستلو او ورکولو کښې هر قسم ټګی کول هم غلا ده. دا قسم غلا ډیر خلق کوی. مګر بیا هم خپل ځان پاک او رښتینی ګڼی مګر په اصلیت کښې دا هم د دې حکم ماتول دی.

## دریم قسم: ظلم کول

په خوارانو باندې هر قسم ظلم زور کول هم غلا ده، بلکه داسې غلا ده چه خُدائې د خپلو نبیانو په وسیلې سره د دې ظلم په ظالمانو باندې لعنت وائی. نو د دې حکم په مطابق له خوارانو نه په زور بانده کار، کور، سر یا مال اخیستل مناسب نهٔ دی، مګر انصاف کول خاص الخاص د هغوئ د پاره په کار دے.

## څلورم قسم: پوره حساب ورکول

د کار یا د خدمت د پاره پوره حساب ورکول پکار دی. او پوره کار کول هم پکار دی که چا پوره کار یا خدمت کړی وی او اخیستونکی په بدل یا په حساب کې کمی راولی، نو هغه غلا کوی. او که چیری څوک پوره حساب د یو کار یا خدمت د پاره ورکوی او کار کوونکے یا خدمت کوونکے نیمګړی یا غافل کار کوی هغه هم غلا کوی. ځکه پوره خدمت کول د نوکر سره او پوره حساب ورکول د مالک سره مناسب دی. او څوک

چه داسې نۀ کوی هغه هم غل دے. او د خُدائے د حکم نه خلاف چلیږی لنډ مطلب دا دے چه د خُدائے تعالیٰ مرضی دا ده چه هر څومره چه انسان ګټلے شی نو هغه دے په دې شان وګټی چه بل چا ته پرے نقصان ونۀ رسیږی هغه دې په خپل کوشش او خپل رښتنی کار او خدمت سره وګټی او هر څه چه د دې نه بهر دی هغه هم غلا ده.

## نهم حکم

### تهٔ به د خپل ګاونډی په حقله د دروغو ګواهی نهٔ ورکوئ.

په دې حکم کښې مونږ دوه خبری وینو چه ضروری دی.

### اوله خبره

په هر قسم عدالت کښې چه څوک ګواهی ورکوی نو د دروغو ګواهی ورکول سخته ګناه ده. بلکه په داسی موقع کښې که څوک د چل ول خبرے کوی نو دا هم دروغ دی. په پوره او صفائی سره د رښتیا ګواهی پکار ده.

### دویمه خبره

یوه عامه ګناه هم په دې کښې شمارلے کیږی. یعنی هر قسم چغلی، پشی شاه خبرے او بدنامول یا تهمت

لګول هم د دروغو ګواهی ده. په انجیل شریف کې لیکلی دی چه که څوک مینه کوی نو هغه په ډیرو مختلفو ګناهونو پرده اَچوی. یعنی مطلب دا دے چه په عیسویت کې صرف دا لاژم نه دی چه د دروغو ګواهی ونه کړی بلکه دا هم ضروری ده چه د بل په غلطئ به پرده هم اَچوی. او د هغے وینا به بل هیچا ته نۀ کوی.

بیا زمونږ مالک عیسیٰ مسیح دا فرمائیلی دی چه که ستا ورور ستا په خلاف ګناه وکړی نو تۀ به اول یوائې لاړ شی او هغه به پوهه کړی. که هغۀ ستا ونۀ منل نو دوه کسه ګواهان به ځان سره بوځی چه خبره پوره رښتیا شی. مګر د هغۀ په سر باندے به هیڅ قسم چُغلی یا پشی شاه خبری نۀ کوی او که چیری غیر عیسوی ستا په خلاف ګناه وکړی، نو دعا کول د هغه د پاره پکاره ده. یعنی په دې طریقے سره به هیڅ موقع د دروغو ګواهئ د پاره پاتی نۀ شی.

## لسم حکم

**تهٔ به د خپل ګاونډی کور ته یا ښځی ته یا مزدور ته یا خدمت ګاری ته یا مال ته یا نور د هغهٔ دولت ته په ورېو سترګو نهٔ ګوری.**

په دې حکم کې مونږ ښکاره وینو چه دا د خُدائے انتظام دے چه په انسان کې فرق وی د دې د پاره چه هر یو کس په خپل دنیاوی حال په وجه دا تسلی وساتی چه ورکونکے خُدائے دے. که خُدائے یو کس له زیات ورکړی وی نو هم هغه زیات ورکړی دی نو هغه زیات ذمه وار هم دے او هغهٔ له پکار دی چه په ویری سره هغه مال په طور د بادار وساتی او استعمال ئې کړی او که بل چا ته خُدائے لږ ورکړی وی نو هغه دې په صبر او شکر سره په هغے وخت تیر کړی. او دواړه باید د خُدائے شکر ګزار اوسی، ولی چه خُدائے ښه پوهیږی او د دواړو د پاره یو شان برابر فکر کوی.

## نتیجه

چه انسان په دې الٰهی شریعت فکر کوی او بیا خپل عمل ته وګوری، نو هغه زر پوهیږی چه په پوره طور باندی د فرمانبرداری امکان نه شته. په بنی اسرائیلو کې خلقو وویل چه مونږ به د رب په شریعت پوره عمل کوو. مګر کله چه هغوی په رښتنی زړه د پوره کولو کوشش کاوه، نو هغوی ته معلومه شوه چه د ګناه ګار انسان نه دا نه شی پوره کیدلے. او چه انسان د یو حکم په وجے ګناهګار شو، نو د خُدائے د وړاندې لعنتے شو. نو خُدائے ځکه د قربانۍ انتظام وکړ.

او چه انسان د ایمان په وسیلی قُربانی وکړله نو خُدائے دا وعده کړی وه، چه د لعنت حکم به زۀ ستاسو له سر نه لری کړم. ځکه هر چا چه په بنی اسرئیلو کې په رښتنی زړه سره د شریعت پابندی کوله هغوئ به هم کال په کال د ګناه په وجے قربانی کوله چه د لعنت نه بچ شی یعنی په هغه زمانه کې دا خوشخبری وه.

اګر چه د شریعت په موافق مونږ لعنتیان یو، خو چه مونږ دا ایمان لرو چه د قُربانۍ په کولو خُدائے معافی

راکوئ نو هغه لعنت به زمونږ نه لری شی. او د ګناه په معافئ به ژوندون حاصلوو. مګر مونږ ته په هغه قُربانئ کښې خُدائے هم یو اشاره راکړه. د دې د پاره چه کوم وخت اصلی او ازلی قربانی راشی چه یو ځل د ټولو انسانانو د پاره قُربانیږی نو انسان به په دې مطلب پوهه شی، چه د خُدائے ګډوری راشی یعنی عیسیٰ مسیح. نو انسان به په دی پوهه شی چه د هغۀ په وجه به د لعنت نه بچ شم. مګر هیڅوک دا نۀ شی ویلی چه عیسیٰ مسیح په وجه مونږ د الٰهی شریعت نه خلاص شو. او بے لارے په دنیا کښې تلی شو. او اخر به خلاصون بیا مومُو عیسیٰ مسیح هغه وخت د چا قُربانی کیدے شی. چه هغه په پوره طور سره د شریعت پابندی کوی. او په دې هغه پوه شی چه په شریعت او صداقت نه پوره کیږی او لعنتے یم. که خُدائے زما د پاره څه ونه کړی نو غرق به شم. په دې حالت کښې د کلام اوریدل د مسیح په حق کښې د خوشخبرئ په طور د انسان په غوږونو لګیږی.

ولی چه هغه زمونږ خلاصون شو او خلاصونکے دے.

لندہ دا چه څوک چه د عیسیٰ مسیح سره یووالے لری، دَ هغوئ مُجرم کیدل نِشته. ځکه چه په عیسیٰ مسیح کښے دَ ژوند ورکُوونکی دَ رُوح شریعت زَۀ دَ ګُناه اَؤ دَ

مرګ له شریعت نه آزاد کړلم. اَؤ هغه څۀ چه شریعت نۀ شو پُوره کولے ځکه چه اِنسانی فطرت کمزورے وُو، نو خُدائے داسے وکړل چه خپل زوئے ئے په ګُناه ګار اِنسانی وجُود کښے راواستولو اَؤ دَ ګُناه کفاره ئے کړو اَؤ دغسے هغۀ ګُناه په اِنسانی فطرت کښے مُجرمه کړه، دَ دے دَ پاره چه دَ شریعت هغه حُکم په مُونږ کښے پُوره شی چه دَ رُوح په مُطابق ژوندُون تیروو، نۀ چه دَ اِنسانی فطرت په مُطابق. هغه څوک چه اِنسانی دی نو دَ اِنسانی فطرت په مُطابق اوسی اَؤ څوک چه رُوحانی دی نو هغویٔ دَ رُوح په مُطابق اوسی. په اِنسانی فطرت کښے دَ اوسیدلو اَنجام مرګ دے اَؤ په رُوح کښے دَ اوسیدلو اَنجام ژوندُون اَؤ سلامتی ده. ځکه چه اِنسانی فطرت لرُونکے دَ خُدائے سره دُښمنی کوی اَؤ دا دَ خُدائے دَ شریعت تابعداری نۀ ده اَؤ نۀ کیدے شی. (رومیان ۸: ۱-۷) ځکه چه شریعت دَ مُوسیٰ په وسیله ورکړے شو خو فضل اَؤ حقیقت دَ عیسیٰ مسیح په وسیله راغلل. (یوحنا ۱: ۱۷)

# دعا

اے د کائناتو مالکه! ستا نوم ډیر پاک دے او هم ستا شریعت ډیر پاک دے. زه دعا کوم چه ما ته ستا حقیقت او فضل را کړه. ځکه هیځکله هم یو انسان په خپله نشی کولای چه ستا لار او شریعت په خپل انسانی طاقت سره په ځای کړی او سر ته ئې ورسوی. ځکه چه انسان په خپل طاقت سره همیشه د ناکامی او آزمایښتونو سره مخامخ کیږی.

او شریعت هم مونږ ته ګناه را په ګوته کوی. که شریعت نهٔ وے نو زهٔ به په ګناه پوهه شوے نه وے، ولے چه ما به دا هیڅ کله هم نهٔ وے پیژندلے چه لالچ څهٔ شے وی، که چرے شریعت دا نهٔ وے ویلے چه «تاسو لالچ مه کوئ،» هم دَ دے حکم په وسیله ګناه ته داسے موقع په لاس ورغله چه په ما کښے ئے هر قسم لالچ پیدا کړو. ځکه چه زمونږ ټول ښه کارونه او ښه عملونه ستا په حضور کښے د خرابو او بدبویه چیرړو په شان دی. مونږ په دې پوهیږو چه په شریعت مو په خپل طاقت سره پوره عمل نه دے کړی او ګناه ګار یو، او د خلاصون محتاج یو.

اے پاکه او مقدسه خدایه! بې له ستا له فضل څخه مونږ نه شو کولای چه خپل ځان پاک کړو. زمونږ سترګی روښانه کړه او ستا د حقیقت روح مونږ ته ستا د بے بها فضل په مطابق را کړه. زمونږ دا د ګناهونو بار زمونږ له اوږو څخه په خپل الهی قدرت سره لری کړه او مونږ ته وښایه چه مونږ څه وکړو. تا خپل فضل او مینه او رحمت د حضرت عیسیٰ مسیح په قربانی کښی څرګند کړی دے. نو مونږ ته د هغۀ په پیروی او تابعداری باندی توفیق او توان راکړه، ځکه چه د چیلو او ګډورو او غویانو وینه زمونږ ګناهونه نشی وینځلی.

اے لویه خدایه! لکه څنګه چه تا په خپله یو پاک ګډوری یعنی حضرت عیسیٰ مسیح د انسانانو د ګناه د ختمولو د پاره را ولیږه او هغه زمونږ د ګناهونو د پاره قربان شو. او زمونږ ټول تکلیفونه یعنی د شریعت د ماتولو سزا ئے په خپل ځان واخیستله. اے خدایه ما ته صحیح لار وښایه او هغه لار چه ته پرې خوشحالیږی. او دا زما عرض دے چه د هغۀ په قربانی او په بیا ژوندی کیدلو باندے ما ته ایمان راکړه چه ستا په مخ کښے بے له څه ویری څخه د ودریدو جوګه شم. آمین.